د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت

د عدلیی وزارت

# رسمی جریده

شماره اول «۱۶» حمل سال ۱۳۵۹ نمبر مسلسل (٤٤٨)

# درین شماره

مقررات تنظیم حسابات بودجوی
با دافغانستان بانک

مسؤول مدیر : غفار گرامی
مرستیال : روح گل نوری
مهتمم : نور علم

## دعدلیی محترم وزیر !

دوزیرانو مجلس په «۲۱۲۵» گڼه پریکړه کښی د ۱۳۵۹ کال دحمل دمیاشتی د نهمی نیټی په غونډه کی دعدلیی دوزارت د حمل دمیاشتی دپنځمی نیټی اته ویشتمی گڼی عرض پاڼی ته په کتنه لاندی مراتب تصویب کړل :

« دافغانستان بانك سره دبودجوی حساباتو دتنظیم مقررات په نو لس ما دو کښی دننه منظور دی ، په رسمی جریده کښی دی خپاره شی.»

دوزیرانو دمجلس د تصویب مراتب چی دافغانستان ددموکراتیك جمهوریت دانقلابی شورا دمحترم رئیس له حضوره منظور شوی دی تاسی ته خبر درکړ شو چی نوموړی مقررات په رسمی جریده کښی خپاره کړی .

**اسد الله سروری**

**دافغانستان ددموکراتیك جمهوریت دانقلابی شورا مرستیال او د صدر اعظم مرستیال .**

## محترم وزیر عدلیه !

مجلس وزراء تحت فیصلهٔ شماره «۲۱۲۵» در جلسه تاریخی ۹ر۱ر۱۳۵۹ با ملاحظهٔ ورقه عرض شماره (۲۸) مورخ ۵ر۱ر۱۳۵۹ وزارت عدلیه مراتب آتی را تصویب نمود :

« مقررات تنظیم حسابات بودجوی با دافغانستان بانك بداخل (۱۹) ماده منظور است . در جریده رسمی نشر شود. »

مراتب تصویب مجلس وزراء که به منظوری حضور محترم رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیك افغانستان رسیده بشما خبر داده شد تا مقررات مذکور را در جریده رسمی نشر بدارید .

**اسد الله سروری**

**معاون شورای انقلابی ومعاون صدر اعظم جمهوری دموکراتیك افغانستان**

## دافغانستان بانك سره‌د بودجوی حساباتو دتنظیم مقررات

## لومړی فصل

## عمومی حکمونه

### لومړی ماده

دغه مقررات دپیسو او بانکداری دقانون اودبودجی او محاسبـــــی داصولنامی دحکمو نو په اســـاس دافغانستان بانك سره دبودجـــوی حساباتو دتنظیم او تو ضیح پـــه منظور وضع شوی دی .

### دوهمه ماده

لاندی اصطلا حات په دی مقرراتو کښی لاندی معناوی لری :

۱ـ مرکزی بودجـــوی حســـاب : ددولتی بودجی جاری حساب چـــی دافغانستان بانك په مرکز کــــــی پرانستل کیږی اوپه هغه کښـــــی ددولتی بودجی عواید ټولیږی اوهم یی د لګښت د شتمنی دشته وا لی تر حدودو پوری سر ته رسیږی .

۲ـ فرعی بود جوی حسا بات : هغه حسابات چی دافغا نستان‌بانك په مرکز اود هغه په نورو ښـــاری څانګو او نما یندګیو کی پرا نستل کیږی او په هغو کی د دولتی‌بودجی عواید مرکزی بو دجوی حساب تـــه دوروستی لیږ دونی پـــه منظـــور ټولیږی .

## مقررات تنظیم حسابات بودجوی با دافغانستان بانك

## فصل اول

## احکام عمومی

### ماده اول

این مقررات متکی به احکام‌قانون پول وبانکداری واصو لنامه بود جه ومحاسبه بمنظور تنظیم و توضیح حسابات بودجوی با دافغانستا ن بانك وضع گردیده است .

### ماده دوم

اصطلا حات آتی درین مقـــررات دارای معانی ذیل میباشند :

۱ـ حساب مرکزی بودجـــوی : حساب جاری بودجه دو لتی که در مرکزدافغانستان بانك افتتاح‌میگردد ودران عواید بودجه دو لتی جمـــع گردیده وهم مصارف آن تا حدو د مو جودیت دارائی انجام می‌یابد .

۲ـ حسابات فرعی بودجو ی :

حساباتی که در مرکز و دیگرښاری څانگه ها ونمایندگی های‌دافغانستان بانك افتتاح گردیده و دران عوایـــد بودجه دو لتی بمنظور انتقال بعدی بحساب مرکزی بودجه تجمع‌مینماید.

۳ـ دزیاتی اخیستنی حساب : دلنډې مودې دپورونو هغه حساب چې دافغانستان بانك له خوا ددولتی بودجې د لگښتو نو دتمویل په منظور پرانستل کیږی او په مرکزی بودجوی حساب کې دشتمنـــــی دنشتوالی په صورت کې له هغه نه پیسی اخستل کیږی .

۴ـ پیشکی پور : هغه دلنډې‌مودې پور چې دافغانستان بانك له خوا دولتی ادارو او موسسو ته ورکول کیږی .

۵ـ داوږدې مودې دولتی پوروړ ـ توب : دافغانستان بانك نه ددولتی بودجې داو ږدې مودې پور وړ توب چې ددولتی بودجې دکسر دتمویـــل له در که منځ ته راځی .

۶ـ دبودجوی لگښت چك :دهغو پیسو دور کړی په مقصددافغانستان بانك ته دما لیې د وزارت حوا له‌چې ددولتی بودجې په لگښتونو کښـــی پیشبینی شوی دی .

## دریمه ماده

ددولتی بودجې ټول لگښت‌دهغی دعوایدو په پرتله دبودجې دتنظیم او ترتیب‌په‌وخت کې تثبیتیږی‌او دافغا ـ نستان بانك ته خبر ورکول کیږی.

۳ـ حساب اضافه بـــرداشـــت : حساب قروض قصیر المد تی که از طرف دافغانستان بانك برای تمویل مصارف بودجه دو لتی افتتاح‌گردیده وازان در صورت عدم مو جودیـــت دارائی در حساب مرکزی بودجو ی برداشت صورت می گیرد .

۴ـ قرضه پیشکی : قرضه قصیر المدتی که از طرف دافغانستا ن‌بانك به ادارات و مؤ سسات دو لتی داده میشود .

۵ـ مقرو ضیت داخلی طویـــل ـ المدت دولتی : مقروضیت طویل ـ المدت بودجه دو لتی از دافغانستا ن بانك که ازدرك تمویل کسر بود جه دولتی بوجود میاید .

۶ـ چك مصرف بودجو ی :حواله وزارت مالیه به دافغانستان بانـــك بمقصد تادیه و جوهی که درمصارف بودجه دولتی پیشبینی گردیده‌است.

## ماده سوم

مجموع مصارف اضا فی بودجه دولتی نسبت به عواید آن حین‌تنظیم وترتیب بودجه تثبیت و به‌دافغا ـ نستان بانك اطلاع داده میشود .

**خلورمه ماده**

دعوایدو د کمبنت په صورت ت‌کی ددولتی بودجی د لگبنتو نودجبران منابع دبودجی د تنظیم په وخت کی ټاکل کیږی .

**پنځمه ماده**

له هغه څه نه زیات چی پیشبینی شوی دی د دو لتی بودجی‌دلگبنتونو دپیسو زیا توا لی یواځی په‌بودجی کښی دتجدید نظر اومو جه دلیلونو دیا دو نی په صورت کښی دقانو نی پړاو ونو له وهلو نه وروسته‌صورت مومی .

د مالیی وزارت دغـــــه ټول زیا توا لی دافغانستان بانك تـــه خبر ور کوی .

**شپږمه ماده**

ددولتی بودجی ټول جــــاری لگبنتو نه دمرکزی بود جو ی‌حساب نه او په نو مو ړی حساب کښـــی دپیسو دنشتوا لی په صورت کښی دزیاتی اخیستنی له حساب نـــه دبودجوی لگبنت دچك په مو جـب ور کول کیږی .

**اومه ماده**

دزیاتی اخیستنی د حساب لـــه درکه پورو ړتو ب په ځانگــړی حساب کښی محاسبه کیږی .

دافغانستان بانك د زیا تـــی

**ماده چهارم**

منابع جبران مصارف بودجـــهٔ دولتی در صورت کمبود عواید حین تنظیم بودجه تعیین میگردد .

**ماده پنجم**

از دیاد مبالغ مصارف بودجه دولتی بیشتر از آنچه در بودجـــه پیشبینی شده است تنها در صورت تجدید نظر دربودجه و ذکر د لایل موجه بعد از طی مراحل قانونـــی صورت میگیرد . و زارت مالیه‌چنین ازدیاد را به دافغانستان بانك‌اطلاع میدهد .

**ماده ششم**

کلیه مصارف جاری بودجه دولتی از حساب مرکزی بودجه ودرصورت عدم مو جودیت وجوه دران، ازحساب اضافه برداشت بمو جب‌چك مصرف بودجوی پرداخت میشود .

**ماده هفتم**

مقرو ضیت از درك حساب‌اضافه برداشت در حساب جدا گانه‌محاسبه میشود .

دافغانستان بانك بالای حساب

اخیستنی په حساب ټکتیانه نه چارجوی .

**اتمه ماده**

دافغانستان بانك مکلف دی چی په مرکزی بودجوی حساب کـــی دلګښتونو دمازادو عوایدو دټولیدو سره سم دنوموړو پیسو پر تلـــه ددولت پوروړ توب بی له ځنډه کم کاندی .

**نهمه ماده**

دولتی اداری په عادی حالاتو کی په کلنی منظوری کی دننه د دری میاشتنیو تخصیصاتو د غو ښتنی حق په پیشکی ډول دما لیی لـــه وزارت نه ، نه لری . یوازی پـــه استثنا یی مواردو کی اداری کو لای شی چی دموجه دلیلونو په وړا ندی کولو سره دما لیی د وزارت نه دغه ډول غوښتنه وکړی .

دمالیی وزارت په ښکاره اړتیا باندی له قناعت نه وروستـــــــه په پیشکی ډول د تخصیصاتو پـــه اجراء کولو موافقه کوی . نو موړی پیسی په مرکزی بودجو ی حسا ب کښی دشتمنی دشته والی پهصورت کی له نو مو ړی حساب نه او د شتمنی په نشتوا لی کی د زیا تـــی اخیستنی له حساب نه اجراء کیږی.

اضا فه بر داشت تکتانه چـــارچ نمیدارد .

**ماده هشتم**

دافغانستان بانك مکلف اســـت بمجرد تجمع عواید ما زاد مصارف بحساب مرکزی بودجه مقرو ضیت دو.لت را بدو ن وقفه متناسب بـــه مبلغ مذکور کاهش دهد .

**ماده نهم**

ادارات دو لتی در حالات عا دی حق درخواست تخصیصات ربعوار داخل منظوری سالانه رابصـــورت پیشکی از وزارت ما لیه ندارند.تنها در موارد استثنایی ادارات میتواندبا ارائـــه دلایل مو جه چنین مطالبهٔ رااز وزارت ما لیه بنمایند .

وزارت مالیه بعد از حصول‌قناعت ازضرورت‌مبرم به اجرای‌تخصیصات بصورت پیشکی موافقه مینماید .

تادیه مبالغ متذکره در صورت موجودیت دارائی بحساب مرکـــزی بودجه از حساب مذکور ودر عـــدم مو جودیت دارائی از حساب اضافه برداشت اجراء میگردد .

**لسمه ماده**

دولتی اداری او موسسی نشی کولای له منظوری او بودجوی تخصیصاتو نه پرته دافغانیو یا اسعارو حوالی دمالیی دوزارت له لاری دافغانستان بانک ته راجع کاندی .

په استثنایی اوخاصو شرایطو کی دا پول غوښتنی دما لیی د وزارت له لاری کیدلای شی . دافغانستان بانک نو موړی حوا له په مرکزی بودجوی حساب کښی دشتمنی دشته والی په صورت کی له نوموړی حساب نه او دشتمنی دنشتوالی په صورت کی دزیاتی اخیستنی له حساب نه ورکوی .

مربوطه اداره مکلفه ده چی ورکړی شوی پیسی د بود جوی مدارکو د تعدیل او دهغو دقانونی پړاوو نو دتیرو لو له لاری دهماغه مالی کال په اوږدو کی تدارک او ور کاندی .

**یوولسمه ماده**

دشتمنی دموجودیت په حال کی دمرکزی بود جوی حساب د عوایدو او لګښتو نو بیلانس او له دی نه پرته ، زیاتی اخستل شوی پیسی دمالی کال په پای کی د دولتی بودجی درښتینو اجرا آتو نتیجه تشکیلوی .

**ماده دهم**

ادارات و موسسات دولتی نمیتوانند بدون منظوری و تخصیصات بودجوی حوا له افغانی یا اسعاری را غرض اجراء از طریق وزارت مالیه به د افغانستان بانک راجع سازند .

درشرایط استثنایی وخاصی همچو مطالبه از طریق وزارت مالیه صورت گرفته میتواند دافغانستان بانک حوا له مزبور رادر صورت موجودیت دارائی بحساب مرکزی بودجوی ازان حساب ودر صورت عدم موجودیت دارائی از حساب اضافه برداشت تادیه میدارد .

اداره مربوط مکلف است که پول پرداخته شده را از طریق تعدیل مدارک بودجوی وطی مراحل قانونی آن در طول همان سال مالی تدارک و تادیه نماید .

**ماده یازدهم**

بیلانس عواید و مصارف حساب مرکزی بودجوی در حال موجودیت دارائی ودر غیر آن مبالغ اضافه برداشت به ختم سال مالی نتیجه اجراآت حقیقی بودجه دولتی را تشکیل میدهد .

## دوهم فصل

### دحساباتو دمعاملاتودسرته رسولولار

### دولسمه ماده

بودجوی حسا بات او دزیا تی اخیستنی حساب یواځی په دافغانستان بانک کی پرا نستل کیږی.

### دیارلسمه ماده

دافغانستان بانک په مرکزی بودجوی حساب ، بود جو ی فر عی حساباتو او دزیا تی اخیستنی د حساب مربوط راپور دما لیی دوزارت دخزانو ریاست ته هره ورځ لیږی .

### څوارلسمه ماده

که چیری په کوم فرعی حساب کی پنځه ملیونه افغانی او یا ورنه زیا ت بودجوی عوایدټول شی ، دافغانستان بانک مکلف دی چی دنو مو ړ ی حساب پیسی مرکزی بودجوی‌حساب ته ولیږ دوی .

### پنځلسمه ماده

دمالی کال دحوت د میاشتی په پای کی دافغانستان بانک دمر کز دټولو فرعی حسا با تو دافغانستا ن بانک د ښاری څانګو او نماینده ګیو ټول بقا یا دافغانستان بانک مرکزی بودجوی حساب ته لیږ دو ل کیږی.

که چیری د زیا تی اخیستنی له درکه د دولت دپور وړ توب‌دښپړی ور کړی نه وروسته په مرکزی

## فصل دوم

### طریق انجام معاملات حسابات

### ماده دواز دهم

حسابات بودجوی و حساب‌اضافه برداشت تنها در دافغانستان بانک افتتاح میگردد .

### ماده سیز دهم

دافغانستان بانک روز مره را پور مربوط به حساب مرکزی بودجه ، حسابات فر عی بود جوی مرکز و حساب اضافه بر داشت را به‌ریاست خزاین و زارت مالیه ارسال میدارد.

### ماده چاردهم

هرگاه در یکی از حسابات‌فرعی، عواید بود جوی پنج ملیون افغا نی واضافه تر ازان تجمع نماید دافغانستان بانک مکلف است مبلغ‌حساب متذکره را بحساب مرکزی بودجه انتقال دهد .

### ماده پانزدهم

درختم برج حوت سال مالی بقایای کلیه حسابات فر عی بودجوی مرکز دافغانستان بانک ، شهری څانگه ها و کلیه نمایندگیهای دافغانستان بانک بحساب مرکز ی بودجه انتقال می یابد .

در صورتیکه بعد از پر داخت کامل مقرو ضیت دو لت ا ز درک اضافه برداشت در حساب مرکز ی

بودجوی حساب کی څه پیسی پا تی شی ، درا تلونکی ما لی کال دبودجی عاید گڼل کیږی .

**شپاړسمه ماده**

د زیا تی اخیستنی د حساب له درکه دپور وړ توب دمو جو دیت په صورت کی ، نو مو ړی بقا یادهماغه ما لی کال په‌پای کی داوږ دی مودی ددولتی داخلی پوروړ توب حساب ته انتقال ور کول کیږی .

دافغانستان بانك له دی ډول پورونو نه ټکټانه، نه اخلی .

**اولسمه ماده**

ټولی هغه حوالی چی دما لیی د وزارت له خوا صادری شوی او د ما لی کال تر پا یه پوری دافغانستان بانك ته دور کړی لپاره نه وی و ړاندی شوی دمالی کال په‌پای کی له اعتباره لویږی .

## دریم فصل

## متفر قه حکمونه

**اتلسمه ماده**

دمالیی وزارت او دافغانستا ن بانك ددغو مقرراتو د ښه تطبیق لپاره لایحی وضع کوی .

**نولسمه ماده**

دغه مقررات په رسمی جریده‌کی له خپریدو وروسته نافذیږی .

بودجه درختم سال و جوهی با قی بماند عاید بودجه سال مالی آینده شناخته **میشود** .

**ماده شانزدهم**

درصورت مو جودیت بقا یا ی مقرو ضیت ازدرك حساب اضا فه برداشت بقایا ی متذکره در اخیر همان سال ما لی بحساب مقروضیت داخلی طویل المدت دو لتی انتقا ل داده میشود .

دافغانستان بانك ازین نوع قروض تکتانه اخذ نمی نماید.

**ماده هفدهم**

کلیه حواله جا تیکه توسط وزارت مالیه صادر گردیده و تاختم سال مالی مربوط به دافغانستان بانك جهت پرداخت ارائه نگردیده باشد درختم سال مالی از اعتبار ساقط میشود .

## فصل سوم

## احکام متفر قه

**ماده هجدهم**

وزارت مالیه و دافغانستان بانك بمنظور تطبیق بهتر این مقررات لوایح وضع‌می کند .

**ماده نزدهم**

این مقررات بعد از نشر درجریده رسمی نافذ می گردد .

## وجه اشتراک

مرکز ۳۰۰ افغانی

ولایات ۳۴۰ "

برای محصلان و متعلمان نصف قیمت

خارج کشور ۵۰ دالر امریکائی

قیمت این شماره (۳۰) افغانی

THE DEMOCRATIC REPUBLIC
OF AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

**Editor: A. Ghafar Giramy**
**Assistant: Rohgul Noory**
Issue No: (448)
Date: April 5, 1980

دولتی مطبعه

دچاپ شمیر «۳۰۰۰» نسخی